**لیکونکی:** جیمس . م . دورسی (James .M. Dorsey) .
**منبع اود خپریدو نیټه** : گلوبال ریسرچ «2018-10-24» .
**ژباړونکی** : پوهندوی دوکتور سید حسا م «مل» .

---

# د قاشقچي بحران : د پاکستان دعمران خان لپا ره تلپا تی برکت اویا نیکمرغي

***T**he Khashoggi criss: A Blessing in disguise for Pakistan Imrankhan*



*د سعودی د خبریال **قا شقچي** مړینه دا سي وښودل چي د هغه مړینه د پاکستا ن دلمړی وزیر «**عمران خا ن** » لپاره د نقد و پیسو د ترلاسه کولو برکت اونعمت راوړ اوخپله «**عمراخا ن** »هم په احتما لی بڼی د سعودی جغرافیا دگټی دپا ره هم برکت اونعمت دی.*

*داصولو له مخی ټول ښه ښیا ن دری چیزی ( ښیا ن) دي ، **عمران خا ن** داوگست له میا شتی څخه کله چي خپل دفتر ته راغلی اود پا کستا ن د لمړی وزیر په صفت په کا ر پیل کړی ، سعودی عربستان ته دهغه دوهم ځل سفر دی کوم چي هغه د خپل په دی دوهم ځل سفر کی سره زر ترلاسه کړیعنی په سا ده عبا رت سره په سروزرو کی سکه ووهل .*

*ښاغلی **خا ن** د پا نگوالانو **د داوس** (Davos) صحرا په نوم کنفرا نس کی کوم چي د شهزاده **محمد بن سلما ن** ترسرمشریزی لاندی پرانیستل شو برخه واخیست. او**خا ن** په دی کنفرانس کی د خپل گډ ون له برکته ستر پا داش او یا جا یزه ترلاسه کړ. په دی کنفرانس کی کوم چي د لوید یځو هیوادونو د ما لی موسسو گڼ شمیر مد یران ، تکنیکی اود فناوری لوړ پوړی ریسا ن ، لوی سوداگری ، نړیوال تولنیز رسني ، اودغربی*

*دولتونو لوړ پوړی چارواکي سره ګډون کړی وه او هغه هم دسعودی عربستان دخبرېال قاشقچی داړینو چارو په مورد کې .*

***خا ن*** *د سعودی عرب* ***د سلما ن*** *پاچا اودسعودی شهزاده* ***محمد بن سلما ن*** *سره دخبرو په ترڅ کې ،سعودی خواوی ژمنه وکړ چی د پا کستا ن مرکزی با نک ته (دری) ملیا رد دالرا وهم د تا د یا تود ملاتړ د توازن د پا ره او هم د یوکال دتیلو دوارداتو د پا ره اضا فی (د ری) ملیارد دالر حواله کړی .*

*سعودی عربستا ن* ***دعمران خان*** *هغه ما لی کمکی غوښتنه کوم چې* ***خا ن*** *عربستان ته دخپل لمړي سفر په ترڅ کې کړی وه سعودی مقامات دهغه غوښتنه رد کړی وه ، اما سعودی مقا ما تو سره دا تما یل وجود لرل چې هغه هیواد دګوادر په بند رچینیا یی پروژو ته نژدی دعربستا ن په سمند رکی د یوپالایشګاه (د تیلو دتصفیی کولو دستګاه) د جوړونی په برخه کی اوهم دهغه هیواد د معد نونو د استخراج په برخه کی پا نګونه وکړي اوپه دی شان عربستان سره دا تصور اوتمایل موجود وه چې پاکستان سره هر اړخیزی مرستی تر سره کړي .*

*د سعودی عربستا ن وروستی موا فقتنا مه پاکستا ن ته د ما لی مرستو په اړه به دا وی چې هغه هیواد په قوی احتما ل سره* ***عمران خا ن*** *سره هسی مرستی تر سره کړی چې هغه له (8) ملیا رد نه تر (12) ملیارد دالارو پوری د پیسو د نړیوال صند وق ته ضما نت وکړی کوم چې پا کستا ن له هغه با نک څخه پوروړی دي .*

***عمران خا ن*** *دریا ض له ترک اویا دپیبی سپک کولوڅخه مخکی په یومرکه کې وویل چې هغه دقا شقچي د(حیرانونکي) وژنی سره سره په دی کنفرانس کې ګډ ون کوی او هغه داچې که چیری مونږ په یو اوبل ډول د دوستو هیوادونو اود پیسو دنړیوال وجهی صندوق څخه تر دری میا شتی پوری پور تر لاسه نه کړو چی د خپل وارداتو د پا ره پیسو ته ضرورت لرو نو بی له هغه به زمونږ وضع اوحا لت لا پسی به ناهیلی او خرابه شی .*

*دپاکستان خارجی زیرمی یا هغه دارایی کوم چی په خارجی بانکونو کی لری په دي میا شت کی (8،1) ملیارد دالرد را تیت شوی دي اودڅلورو کا لو په موده کې به په کا فی اندازی سره د پورونو دورکولو اندازه هم لا پسی به تیټ شی چې د پاکستا ن د اوسنی کسری جا ری حسا ب تر (اته) ملیا رد دالرو ته رسید لی دی.*

*دریکو ډیک (Recko Diq) دمسواودسروزرودمعدن کیند نه د ممکنه سعودی پانګی اچونی سره او همدارنګه دګوادر په بندرکی دیو پالایشګاه جوړونه هغه برنا می دی کوم چی دایران سره د پا کستا ن پولی ته نژدی د بلوچستا ن د صوبی په ستونزمن سیمه کی پلی شی ددی سا حی ستونزمن والی په دی کی دی چې د ګوادر بندر یوائی (۷۰) کیلومتره سا حل د چها بها ر له بند ر څخه لیری دهند په تصرف کی دی .*

دپاکستان وسله والو اویا جګړه ما رو ځواکونو پروسږکال داسی یو راپور خپور کړل چي سلطنتی رژیم ، افراطی محا فظه کا رو ضد شیعه اوضدا یرانی سنی مسلما نا نو د پا کستان د مذهبی مد رسو اودمذ هبی سیمینا رونو د تدویر د پاره لازمی اوپوره مرستی تر سره کړی آما تر اخره پوری څرګند نشو چي آیا داپیسی دسعودی حکومت پواسطه اویا دبلوچو نسل کوم چی دسعودی تابیعت لری اویا دهغه دوه میلیون تبعیدی پاکستا نی الاصل چي په سعودی عرب کی ژوند کوی مرسته شوی اویا څنګه ؟

## دپا کستا ن لمړی وزیرسره دسعودی اود ایران مینه اودوستی:

دا په بشپړه توګه سره څرګند نه وه چي سعودی عربستان څنګه دپا کستا ن له خوا د ا یران په سیا لی کي د ښاغلی **عمران خا ن** په پلوی خپل کمکونه پاکستا ن ته زیا توی اما ددی اطمینان په لرلو سره له دی نه چي پاکستان دنړی تر ټولو لوی شیعه مذهب اقلیت لری اودغه شیعه ګان دایران د شیعه ګانوسره ناموافق اونا سا زګار دی ،عربستان ته داهمیت وړ اوپه زړه پوری مطلب دي ځکه چي د ا د قا شقچي د مړینی په پا یله کی د متحده ایالاتو اولسمشر **دونالد ترومپ** دی چي دایران دګوښه کولواویا د منزوی کولو دپا ره نه سترې کیدونکی هلی ځلی په لاره اچولی دی چی دهغه مقصد په ایران کی درژیم بد لول دی یا داچه غواړی چی د ایران اقتصا د بلکل ګډود کړی .

نو دهمدی مقصد د پلی کولو دپا ره هغه یعنی **دونالد ترومپ** دخپل ستراتیژی دپا ره سعودی عربستا ن دیومرکز په بڼه په نظرکي نیولی ترڅو چي دایران اسلامی جمهوریت د مجبوریت له مخی خپل مرستی په یمن او په لبنا ن کی ودروی او هم خپل نظا می قوتونه د سوریی څخه وبا سی اوخپل با لستیکی سلاح او ا تومی توغندی له مینځه ویسی اویا نور دهغه جوړونو ته زړه ښه نکړي . .

***پا کستا ن سره د سعودی ما لی ملاتړچی ممکن ښاغلی خان دهغه په مفهوم باندی پوه شی هغه دادی چی پاکستا ن دامریکی اود سعودی عربستا ن دهلو ځلو د پوشش څخه ایستل ستونزمن دی اویا داچي امریکی اوسعودی عربستا ن ته د پاکستا ن دچوپړ کیدو مخه نیول نا ممکن دي.***

یا غیا نو تیره اوني پاکستان پولی ته نژدی (14) دایران امنیتی پرسونل چي په هغو کی دایران انقلابی سا تونکو هم شا مل وه ځا ن سره برمته کړي اویا یی تښتولی دي ، پاکستا ن په دی مورد کی ایرا ن ته ژمنه کړی چي د برمته شوی په خوشی کولو کی به هراړخیز مرستی ترسره کوي کوم چي په سرحد کی له بلوچستا ن څخه را تښتول شوی دي اودغه موضوع د بلوچو ملیشی اونا سیونا لیستا نو په ډاګه کړ اوداسی وویل : دترهګرو ډلو تپلوغړی چی د بهرنیو ځواکونو پواسطه سره لاربښونه اوملاتړکیږی دغلا کولو اود بډی ا خیستلو دلاری دا ډول کړنه ترسره کوي ، ګارد یوسرچینی پخپل اعلامیه کي بی دهغه د نوم اخیستلوویلی دي چي سعودی عربستا ن اوامریکا دغو لاره شکونکو

اوغلو سره مرسته کوی کوم چی دغه پیښه په احتما لی بڼی سره چین اند یښمن کړي او هغه داچي په دی ډیر ناوړی او بدترین حالاتو او یا شرایطو کي سعودی عربستا ن دخپل پا نګونی سره چی با ید د ګوادر په بند رکی اقتصادی فعا لیت اومرستی ترسره کړی نو د مرستو پرځای دګوادرد بند ر په تړلو سره په کار پیل کړی کوم چی سعودی عربستان به په دی خپل کا ر کی دمینځنی ختیځ په یوه بله شد ید شخړوکی به ځان راګیر کړي .

چین لا هم اند یښمن دي چی ددریم اړخ (شخص) دځا رنی کړنه او فعالیت به کله راجوته شی ترڅو چي هغه شخص دا پریکړه وکړی چی ګوادر نه یواځی دسوداګریزو موخو لپا ره دی بلکه د سمند ری مرکز په توګه هم کا رول کیږي .

دبلی خوا څخه د سعودی پا نګوني کولی شی چي د چینیا یی پلانونو امکا نا ت نورهم پیا وړی کړي چی د چها بها ر اود ګوادر بند رونه سره و نښلوی اوداسی احتمال وړل کیږی چی ایرا نی او پا کستا نی چاروا کي خپل مخکینی تفاوتونه څخه لاس پر سر شي او هغه تړول ستونزی نا لید لی وګڼي نو دهمدی اصل په نظر کی نیولوسره دا سی برېښی چی د**عمران خا ن** د پا ره کوم یوبل ګزینه اویا د ا نتخا ب لاره نشته چي خپل کړی .

ښاغلی **خا ن** کله چی بله هفته په یورسمی سفرچین ته ځی نوباید دی چی دچینی مقاما تو قناعت پر ځای کړی یعنی چی دچین اود پاکستان اقتصا دی دهلیزچی دهغه ما لی لګښت (45) ملیارد دالرپیشبینی شوی دهغه دتولوپروژو لکه (زیربنایی پروژی دانرژی دتولید د بیا رغونی او دکرهنی پروژه ، اوهم د یو جاده اود یوکمربند پروژه چی په دی پروژو کی د بیکا رو خلکو د پا ره د ندی او شغل را پیدا کیږی ) د تحقق د پا ره سره بشپړ توافق وکړی .

ښاغلی **خان** پخپل مرکه کي دریاض دپانګي اچونی په کنفرانس کی خپل سترګی د مینځنی ختیځ تولوستونزمن موضوعا توته اړولی وه اویا هغه په بشپړبڼی موضوعاتو ته پیشبین وه اوهغه داچي که چیری هغه دا مریکی یوا سطه سره روان زیا تیدونکی شخړی اوتا وتریخوالی په زغرده سره محکوم کړی نو هغه ته به لوی ستونزی راوځیږوی اویا دا چي هغه نه غواړی چی دهغه منا سبا ت او اړیکی د ایران اسلا می جمهوری سره خړ اوپړشی نو په دی صورت کی هغه با ید دی نقطی ته پوره پام واړوی **عمران خان** وویل :

« دامریکی اودایران ننی حالات او اړیکی دنړی دتولو خلکو دپریشانی اود خپګان موجب برابر کړی ، اخرنی مطلب داچي اسلامی نړی په یو اوبل شکل سره بله شخړه غواړی چی وده وکړی ، نود لته داند یښنی برخه دادي چي د **ترومپ** اداره دایران سره د یوڅه ډول شخړو دررامینځته کید و په لور روان دي چی دهغه پا یلی به څه وي ؟ »

-------------------------------- **په تا وده سلا مونو « 2018-10-28 »**